نور مُحمَّــد غفـوري کابل، ۱۳۹۱/۰۷/۰۶ مطابق ۲۰۱۲/۰۹/۳۰

# سیاسی گـــونـد

په پښتو کې د ګوند کلمه د عربی د حزب او لاتینی partis سره مترادفه ده، چې د برخې، ډلې، ګروپ، حصې او قسمت مانا ورکوی.[1] په سیاسی اصطلاح کې ګوند د انسانانو هغې ټولګې (تجمع) ته ویل کیږی چې پخپله خوښه د ټاکلو شریکو سیاسی موخو د پوره کولوله پاره په واحد فکر په یوه سازمان کې را ټول شوی وی. سیاسی موخې که مادی وی او که معنوی، د سیاسی مبارزې له لارې لاسته راتلای شی. سیاسی مبارزه په لومړی ګام کې د سیاسی ځواک او حکومت د ترلاسه کولو او یا د هغو د ساتلو له پاره هڅې او هاند دی.

په اصل کې په ګوند کې د یوې ټولنیزې طبقې او یا د ګډو ګټو لرونکو ټولنیزو قشرونو خورا پوه اود لوړ ټولنیز او سیاسی شعور څښتن فعال کسان را ټولیږی، د هغوی له ګټو استازیتوب کوی او د هغوی نور غړی په سیاسی مبارزو کې رهبری کوی.

د دیموکراتیک پلورالیسم او څوګوندیز سیستم په چوکاټ کې ګوندونه یوله بله سره سیالی کوی چې په سیاسی پریکړو کې غښتلی ځای ونیسی. سیاسی ګوندونه د ملت د سیاسی ارادې په جوړولو کې مرسته کوی او د دیموکراتیک دولت د جوړولو اساسی او خورا غوره ستنې (ستونونه) جوړوی. ګوندونه که له یوې خوا د دولت او ملت ترمنځ د پله حیثیت لری، له بلې خوا د ولسونو د سیاسی شعور په را ویښولو او لوړولو کې ستر رول لوبوی. همدا ګوندونه د مدنی ټولنې د ودې له پاره ښه شرایط برابرولای او ولسونه د دیموکراسی په کلتور او ټولنیزې ډلې یوله بله سره د زغم په روحیه روزلای او روږدی کولای شی. په هره کچه چې په ټولنه کې دیموکراسی پخه او بنسټیزه کیږی، په همغه نسبت د ملت او مملکت په چارو کې د ګوندونو رول لوړیږی. په هر دییموکراتیک هیواد کې د ګوندونو ترمنځ سیالی یو روځنۍ او معمولی شۍ ګڼل کیږی. په دیموکراتیکو نظامونو کې د دولتی تشکیلاتو په جوړولو او بیا هر سیاسی او دولتی مقام ته د افرادو په ټاکلو کې د ګوندونو او مدنی ټولنو رول څرګند وی. خو ګوندونه د بشری ټولنې د تاریخی تکامل په ټاکلی پوړ کې رامنځته شوی دی، د زیربنا ټاکلې وده غواړی او د هغو پر سر د راجوړې شوی روبنا مناسب شکل او مضمون ته اړتیا لری.

د ټولنیز تاریخي تکامل په ټاکلې مرحله کې پانګوالی نظام رامنځته شوی چې د هغې دوې غوره او متضادې طبقې، بورژوازی او کارګری طبقې دی. په همدې اقتصادی-اجتماعی فرماسیون کې د مدرنې دیموکراسی بنسټ ایښودل شوی او د مدرنو دیموکراتیکو ټولنیزو سازمانونو، مدنی ټولنو او سیاسی ګوندونو د ایجاد او تکامل شرایط، یوله بله سره د افرادو، ډلو او ګروپونو د متقابلو دیموکراتیکو اړیکو ټینګیدل او د زغم او تحمل چلند رامنځته شوی دی.

د پانګوالی نظام د غوره ځانګړتیاوو څخه د ټولنیز ژوندانه په اقتصادی، اجتماعی، کلتوری او سیاسی چارو کې د سیالیو (رقابتونو) موجودیت دی. د پانګوالو تر منځ د ژوندانه په بیلابیلو ډګرونو کې د سیالیو شته والی د هغوی د ګټو ترمنځ اختلافونه رامنځته کوی او د پانګوالې طبقې مختلف قشرونه منځته راوړی. د پانګوالو ترمنځ د ډول ډول قشرونو شته والی، د هغوی د عینی ګټو بیلوالی او د سیاسی ځواک د نیولو له پاره هڅې او هاند، په پانګوالی نظام کې دڅو مختلفو بورژوازی ګوندونو او سیاسی سازمانونو د جوړیدو سبب کیږي. د بورژوازی ګوندونو ډیروالی ددې سبب هم دی چې هر ګوند په ټاکلی سیاسی چلند او د کار د مشخص میتود له لارې د ولس د کتلو، زیارکښانو او په تیره بیا د کارګرانو په جلبولو او قناعت کې برخه اخلي. په پرمختللی پانګوالی نظام کې کارګره طبقه هم په بیلو بیلو قشرونو ویشل شوې او د هغې د ګټو ساتونکی ګوندونه هم بیلې بیلې موخې او د سیاسی فعالیت ډول ډول میتودونه لری.

که ګوند د هرې طبقې او ټولنیزو اقشارو د ګټو د ساتلو له پاره فعالیت کوی، د خپل جوړښت او د فعالیت د انتظام له پاره باید درې مهم شیونه ولري چې هغه د مرامنامې، اساسنامې او مرکزی لارښود ارګان (رهبری) څخه عبارت دی.

---

[1]. حسن عمید، فرهنګ فارسی عمید، ۱۳۸۳ کال، ۵۲۲ مخ، مؤسسهٔ انتشارات امیر کبیر، تهران


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**الف:** د گوند برنامه (مرام ) د هغه بنسټيز او تر ټولو مهم سند څخه عبارت دی چې په هغو کې د گوند هدفونه او دندې ځای شوی وي او د گوند هر غړی د هغو په منلو مکلف وی. گوند زيار باسی چې خپله برنامه د ټولنې د تاريخی تکامل د معيني مرحلې د غوښتنو له په نظر کې نيولو او د جامعې ترمخ پرتو ستونزو د ژور تحليل پر اساس جوړه کړی. د گوند په برنامه کې د هيواد او ټولنې د اوږدې مودې د پرمختگ اساسی لوری تحليليږی او د اوږدې مودې په بهير کې دهغو ټولنيزو طبقو او قشرونو هدفونه او گټې ورپکې انعکاس مومی، چې گوند د هغو د ساتلو له پاره رامنځته شوی وی او په سياسی ډگر کې دهغوی استازيتوب کوی. د همدې اساسی موخو په پولو کې د ټاکنو د هرې دورې له پاره ټاکلی شعارونه راباسی، د هغو په شاوخوا د ولس تودې را جلبوی، په سياسی روانو پروسو کې برخه اخلی او د سياسی قدرت د نيولو له پاره تدبيرونه جوړوی. که چيرې گوند د انتخاباتو له لارې دسياسی ځواک په نيولو بريالی نه شی، نو د قانون په چوکاټ کې اپوزيسيونی مبارزې ته دوام ورکوی.

گوندی مرامنامه د ائتلاف له برنامې څخه ژوره، دوامداره او د اوږدې مودې موخې په ځان کې رانغاړی ، په داسې حال کې چې د ائتلافونو او جبهو برنامې مقطعی او په نسبي توگه د لنډې مودې (معمولا د يوې انتخابی دورې) له پاره وی.

ب: د گوند اساسنامه د هغو داخلی تشکيلاتی او سازمانی قوانينو، اصولو او مقرراتو له ټولگې څخه عبارت دی چې د گوندی غړو او د غړو او لارښودو ارگانونو تر منځ د سازمانی اړيکو او اداري هيرارشی ډول ټاکي. په اساسنامه کې د گوند نوم، د هغو لنډيز، د مرکزی دفتر ځای او د فعاليت ډگر څرگندیږی؛ د نويوگوندی غړو د منلو شرطونه او د هغوی د دندو او حقوقو ذکر ورپکی کيږی؛ دگوندي اصولو څخه د سر غړونې په وخت کې د گوندي غړو د مجازاتو لارې او اقدامونه پکې ښکاره وی؛ د گوندي پريکړو د نيولو واکمن ارگانونه او د پريکړو نيولو ډول پکې ټاکل کيږی؛ د لارښودو ارگانونو د جوړولو لارې او يو له بله سره د اړيکو او همداراز د مالی بنسټونو د جوړولو او غښتلی کولو طريقې او تدبيرونه ور پکې ذکر وی؛ د گوندي فعاليت وسيلې، د شوراگانو د جوړولو او فعاليت ډولونه، کنگرې او کنفرانسونه او داسې نور ور پکښې په گوته کيږي.

په گوندی اساسنامه کې سجل شوی گوندی تشکيلاتی آرونه او د فعاليت ميتودونه گوند ته په تودو کې د کار او فعاليت د امکاناتو په جوړولو کې اغيزه لری، د گوندی ديموکراسی په وده تاثير کوی او د رهبری جمعی چلندونه هم تر سيوری لاندې نيولای شی؛ نو ځکه لازمه ده چې د گوند د اساسنامې په جوړولو کې ډير دقت وشی تر څو چې د گوند په داخل کې دشخصيت پرستی، فردی سلطې، اوتوريتار او توتاليتار لارښودو ميتودونو مخه ونيول شی. په اساسنامه کې بايد د گوند په فعاليت کې د ديموکراسی د ودې او د گوندي غړو د برخې اخيستنې چارې په نظر کې ونيول شی، د امکان تر کچې د گوندي مشرتابه واکونه محدود شی او د گوندی غړو له پاره په فعاليتونو کې د پراخه گډون شرايط برابر کړای شی. په گوندي اساسنامه کې د داسې اصولو ذکر اړين دی چې د گوند غړو ته امکان چمتو کړی چې د خپل رهبری ارگان او په هغو کې د هر لوبغاړی کړه وړه تر نظر لاندې ولری، وئې څاری او وئې ارزولای شی؛ تر څو چې د نويو انتخاباتو په وخت کې د کانديدانو په اړه سم قضاوت وکړای شی، پخپل زړه تصميم ونيسی او د خپلې خوښې کانديد ته رايه ورکړی.

ج: د گوند رهبری يا لارښود ارگان، د گوندی اساسنامې له اصولو او مقرراتو سره سم انتخاب شوی ارگان دی چې د گوندی عمومی غونډو (کنگرو) ترمنځ د گوند رهبری په غاړه اخلی.

په ديموکراتيکو گوندونو کې رهبری د يوه ځانگړی فرد په غاړه نه وی، بلکې رهبری ډله ايز (جمعي) شکل لري چې وخت پر وخت بدلون مومی. د رهبری بدلون د غړو په خوښه دانتخاب په لرلو سره د انتخاباتو له لارې کيږی. که انتخاب نه وی، انتخاباتو ته هم اړتيا نشته. په دې مانا چې د هر ارگان له پاره بايد دوه او يا څو کانديدان وی، چې د گوند غړی د هغوی ترمنځ هغه څوک ټاکی چې د نورو کانديدانو په نسبت يې محبوبيت ډير او زياتې رايې تر لاسه کړی. په گوندي رهبری کې د افرادو د انتخاب په وخت کې له هغوی سره شخصی ملگرتيا او خپلوی په نظر کې نه نيول کيږی، بلکې گوندي هدفونو ته د هغو ژمنتيا، ليوالتيا، هوښيارتيا او ځان تيرېدنه په پام کې نيول کيږی.

د رهبری د پريکړو پلی کول د هر گوندی غړی دنده جوړوی او د هغو په وړاندې هر يو فردی مسئوليت لری. ډله ايزه رهبری او فردی مسئوليت د گوندي فعاليت له خورا مهمو رُکنونو څخه شميرل کيږي. ډله ايزه رهبری چې د ديموکراتيکو گوندونو غوره ځانگړتياده، د رهبر د فردی ارادې د تحميل، ذهنيگری او شخصيت پرستی مخنيوی کوی. جمعی رهبری په گوند کې د گوندي غړو د آزادې ارادې د څرگندولو، نيوکو او په گوندی پريکړو کې د زغردې برخې اخيستلو شرايط چمتو کوی.

په ګوندونو کې د دیموکراتیکې رهبرۍ غوره ځانګړنه د هغو بدلون (تعویض) اونوبت (تناوب) دی. د رهبری بدلون او نوبت (تعویض او تناوب) ګوند ته امکان ورکوی چې له نویو شرایطو سره سمه رهبری جوړه کړی، وخت په وخت په نوې انرژي کار پیل کړی او د نویو کادرونو د روزنې، څرګندونې، پیژندنې او را وتلو له پاره شرایط برابر کړی.

په دیموکراتیکو ګوندونو کې رهبری د فعالو کادرونو ترمنځ د آزادو انتخاباتو له لارې رامنځته کیږی او په ټاکلی موده کې (په کنګروکې) د انتخاباتو پروسه بیابیا تکراریږي. د رهبرۍ له پاره په انتخاباتو کې د کاندید کادرونو تیوریکی لیاقت، د زده کړو درجه، ټولنیز شهرت، اخلاقی تقوی، د دندو د اجراعملی مهارت، په ګوند باندې باور او صداقت، صمیمی چلند، فداکاري، د کار شوق، صحی وړتیا او د ګوندی فعالیت له پاره د وخت او امکاناتو شته والی او داسې نور معیارونه په نظر کې نیول کیږی. په دیموکراتیکو ګوندونو کې د رهبری ارګانونو له پاره شخصی ملګرتیا، د عمر لوړتیا، وطنداری، ګاونډیتوب، خپلوي، مشری او کشری او داسې نورې اړیکې په پام کې نه نیول کیږی، ځکه چې دا په مجموعی توګه پر ګوندي فعالیتونو منفی اغیزه کوی. په دیموکراتیکو ټولنو کې چې دولتی واک د ولس د رایو په تناسب او له همدې لارې ویشل او ټاکل کیږی، لازمه ده چې د ګوند رهبر او د لاربنود ارګان ټول غړی د ګوندي پولو ایخواپه ټولنه کې هم د ښه نامه، پراخو سالمو اړیکو او لوړ موقف څښتن وی، تر څو وکولای شی چې د ګوندي غړو سربیره د ولس د پراخه کتلو پام د ګوند د مرامی موخو او رهبری په لوری راواړولای شی.

د ټولو ګوندونو له پاره په نړیواله کچه ملګرتیا او ننګه د فعالیت مهم فکتور ګڼل کیږی. څرنګه چې زموږ د ګران هیواد افغانستان سیاست له نړیوالو سیاستونو سره ژورې اړیکی لری، ګوند او ګوندی غړو ته ښایی چې د هیواد دا ځانګړتیا تر عادی شرایطو ډیره په نظر کې ونیسی او داسې رهبر او رهبری رامنځته کړی چې په نړیواله کچه د ګوند د شریکو هدفونو لرونکی ځواکونه وپیژنی، له هغوی سره د دوه اړخیزو او څو اړخیزو اړیکو په ټینګولو کې بریالی ګامونه واخلی، دپلوماتیک مهارت او استعداد ولری او دګوند له پاره په نړیوال ډګر کې ښه فعالیت وکولای شی. هغه ګوندي لاربنود او د لاربنود ارګان فعالین چې د نړیوالو حالاتو څخه بوره خبر وی، کولای شی چې په نړیواله کچه له ګوند سره د ګډو هدفونو لرونکو ځواکونو له متقابلو اړیکو، مرستو، همکاریو او چانسونو څخه د ګوند د اوتوریتی د لوړتیااو عملی فعالیت د چټکتیا له پاره کار واخلی.

د ګوندي رهبرۍ ابتکار او فعالیت د ټول ګوند په سیاست، فعالیت، د ګوندي غړو ترمنځ د اړیکو په ساتلو او همداراز د ګوند او ولسونو ترمنځ دروابطو په ټینګولو کې ډیر رول لری. که د ګوند رهبری کارپوهه، فعاله او د ابتکار لرونکی وی، د ګوندي فعالیتونو له پاره ښه پلانونه جوړولای شی، دجوړو شوو پلانونو د عملی کولو له پاره وړ میتودونه موندلای شی او په روځنیو سیاسی چارو کې د خپلې طبقې او ګوند له ګټو فعاله ننګه کولای شی. که د ګوند رهبری لازمه هوښیارتیا، د کار سره لیوالتیا او ابتکار ونلری، نو د ګوند په فعالیتونو کې سُستی راځی. که د ګوند رهبران تر ګوندي چارو زیات پر خپلو شخصی کارونوبوخت وی ، د ګوندی کارونو له پاره وخت او انرژی نه شی پیدا کولای او ګوندی کارونه شا ته پاته کیږی. که د ګوند رهبری لازم سیاسی او اداری مهارت ونلری، د ګوندي فعالیت له پاره د لنډو او اوږدو مودو پلانونه او تدبیرونه نه شی سنجولای او د جوړو شوو پلانونو د پلی کولو توان نه لری. ټنبل او بی ابتکاره رهبر او رهبری ارګان د ګوندی غړو ترمنځ ژوندۍ او فعالې اړیکې نه شی ساتلای، تشکیلات نه شی فعالولای، په پریکړو کې د ګوندې غړو نظر نه شی منعکسولای چې په په پایله کې یې ګوندي ارتباطات سستیږی، سازمانونه شړیږی او ګوند له فعالیته لویږی. له دې کبله لازمه ده چې د ګوند غړی د ګوندي رهبرانو په ټاکلو کې له خورا دقت څخه کار واخلی، تر څو چې داسې کسانو ته رایه ورکړی چې د هغوی په وجود کې د ګوند فعالیت چټک او په ټولنه کې یې اغیزې ښکاره شی؛ ګوند د حوادثو په لکی پسې ونه تری، بلکې دپیښو په سر کې حرکت ورکړای شی.

لنډه داچې د ګوند د مرامی اهدافو، اساسنامې آرونو او رهبری ارګانونو په جوړولو او ټاکلو کې د ټولو ګوندی غړو ډیر ژور فکر ته اړتیا ده. له دې سره سرسری چلنداو بې پروایی له خپل او د ټول ګوند له سیاسی ژوند او برخلیک سره بې پروایی او بې غوری ده.

پای